مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۱۰/۱۱

# ادبیات په سمه بڼه وپالئ!

المیه دا ده چې له پخو او سترو ادبي هستیو زیات بد ذوقه، بازاري او نابالغه شاعران چیغې وهي چې ځینو فیسبوکیانو شاعري بې ارزښته او بې خونده کړه.

او غمیزه بیا دا چې بعضي د مشاعرو بدمستان مو یو بل ته په اهل ذوق او اهل ادب ویلو ځانونه د نوي ادبي مندر پنډتان ثابتوي!!

یاره موږ لودګان نه یو، غوږونه مو کاڼه، سترګې ړندې او زړونه بې حسه نه دي. د غزل سر کې لیکل چې: (اهل ذوقو ته دالئ)؛ ستاسې ورستو کړښو ته کوم امتیاز نه وربښي.

نو قربان مو سم ادبیات په سمه اصیله بڼه وپالئ! د شتمني او شهرت لپاره کومه بله ځانګه ولټوئ! دنیا وړه او کسبونه کم نه دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ